نیاز احمد آریوب

۲۰۱۳/۰۵/۱۷

# د ماليي وزير
## او د ولسي جرگې د ځينو غړو ترمنځ څه خبره ده؟

ولسي جرگې د ځينو وکيلانو په غوښتنه يو ځل بيا پريکړه وکړه چې د ماليي وزير د ځينو دلايلو پر بنسټ استيضاح کړي. دوی د استيضاح په دلايلو کې ويلي چې د ماليي وزير په خپلو بهرنيو سفرونو کې له ځان سره مشاورين نه بيايي، د ماليي وزارت زياتره کارکوونکي د يو قوم څخه دي، د ولسمشرۍ په تيرو ټاکنو کې د ملي سوداگرو څخه د ولسمشر له پاره پيسي راټولي کړي، د عوايدو او گمرکونو څخه لاسته راغلي پيسي د ځينو چاراواکو جيبونو ته تللي او د ۱۳۹۰ کال قطعي له امله د ولسي جرگې د غړو ترمنځ اختلاف راپيدا کيدل ښودل شوي.

د ماليي وزير بيا په يو مطبوعاتي کنفرانس کې د ولسي جرگې د ځينو غړو دا تورونه په کلکه رد کړل او و يې وويل چې په ولسي جرگه کې يوه کړۍ ده چې د خپلو غير قانوني غوښتنو د نه منل کيدو له امله يې په ده پسي رااخيستي ده. ده وويل چې دغه وکيلان غير قانوني غوښتني لري او دی يې منلو ته تيار نه دی، نو ځکه ورته خندونه جوړوي. زاخيلوال وويل چې دغه کسان د مخدره توکو، شرابو او نورو غير قانوني توکو په کاروبار کې لاس لري او چمتو دی چې د دغو کسانو نومونه د افغانستان خلکو ته افشا کړي.
که د ولسي جرگې د دغې کړۍ او د ماليي وزير دريځونو ته پام وکړو، نو يو څه څرگند دي، هغه دا چې دغه کړۍ په يو نه يو ډول د ماليي پر وزير فشار راوړي چې د دوی غير قانوني غوښتني ومني او خلکو ته يې څرگندي نه کړي.

د دوی د استيضاح دلايل که وځيرل شي، نو داسي څه په کې نه ښکاري چې د ماليي وزير خپل وخت ورباندې ضايع کړي. وزير که په سفرونو کې له ځان سره مشاورين نه بيايي، نو ضرورت به ورته نه وي او وزير به نه غواړي چې د ملت بودجه بې ځايه په سفرونو ولگول شي. د ولسي جرگې بله خبره چې د ماليي په وزارت کې د يو قوم خلک ډير مقرر دي. د افغانستان په اوسنيو حالاتو کې چې تر پخوا زيات ملي يووالي ته اړتيا ده، د يو وکيل له پاره د دا ډول قومي مسايلو راپورته کول ډيره د افسوس خبره ده. که چيرې د دوی هدف د اجتماعي عدالت راوستل وي او د دې له پاره يو پلان لري چې پوی شي چې په هر وزارت کې څومره کسان څوک، د چا له خوا او په څه ډول مقرر شوي او پيل يې د ماليي له وزارت څخه کوي، نو دا ډيره ښه خبره ده. او که چيرې دا غوښتنه يوازې د ماليي له وزارت څخه کيږي، نو معلومه خبره ده چې تر شا يې بل څه دي. د ماليي وزارت چمتووالی ښودلی چې دغه ارقام څرگند کړي، خو د افغانستان خلک حق لري چې د نورو وزارتونو د کارکوونکو په اړه هم پوه شي چې هلته کسان په څه ډول مقرر شوي او د هر قوم فيصدي څومره ده.

که ولسمشر ته د کمپاين خبره وي، نو نور هم داسي وزير او واليان کم نه وو چې کمپاينونه يې کول او د خپلو کانديدانو د ملاتړ له پاره يې پيسي يې راټولولي. دغو وکيلانو ولې پر هغوی سترگې پټې کړي دي.

د استيضاح بل دليل يې دا ويلی چې د عوايدو او گمرکونو پيسي د ځينو خلکو جيبونو ته ځي. دا خو څرگنده خبره ده چې د افغانستان په ټولو ادارو کې فساد شته. دغه غريبان چې لس کاله وړاندې يې يو کور او يو موټر نه لرل، دا دومره پيسي، کورونه او موټر له کومه کړل چې په افغانستان کې نه ځايږي او نورو هيوادونو ته يې سرايت کړی. آيا د افغانستان خلک ددې حق نه لري؟ چې د دوی استازي چې ولسي جرگه او د مشرانو جرگه دی، د دوی څخه پوښتنه وکړي چې په دغه بې وزلي هيواد کې يې دا عيش او عشرت له کومه کړی دی.

د ماليي وزارت د يو چاراواکي له خولې ويل شوي چې په تير يو نيم کال کې ۱٤۹ وکيلانو د ماليي وزارت ته ۱۷٤۸ عريضې راوړي چې تر ۸۰۰ زياتي يې د ۳۰ وکيلانو دي. په دغو عريضو کې يوازې ۲۸ يې د پراختيايي پروژو د غوښتلو له پاره دي او د ۱۰۰۰ څخه زياتي يې په گمرکونو او نورو ځايو کې د مقرريو له پاره دي. اوس


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

نو قضاوت خلکو ته په کار دی چې د ولسي جرګې دغه کړۍ د مالیې وزیر پر وړاندې خنډونه د څه له پاره جوړوي.

د افغانستان د خلکو هیله دا ده چې په هر وزارت کې دې د بې ځایه لګښتونو او خارجي سفرونو څخه ډډه وشي. د ملت پیسې دې بې ځایه د مشاورینو په سفرونو نه مصرف کیږي. ولسي جرګه دې قومي مسایلو ته لمن نه وهي. په ولسي جرګه کې د بحث له پاره نور په لسګونو ملي مسایل شته چې خبرې ورباندې وکړي. دوی ته په کار دی چې د ملي وحدت له پاره که څه کولای شي، و دې کړي او په عبثو او بې ځایه خبرو دې خپل وخت نه ضایع کوي او که نه وي نو ملت هم اوس د دوی په کیسه کې نه دی او د دوی خبرو ته هیڅ ارزښت نه ورکوي.

پای

د ګران افغانستان سایت څخه په مننه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ